ډاکتر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۵/۲۰

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

## (څلورمه برخه)

## مومند او دېيورنډ کرښه

د پښتنو د مومندو (مهمندو) قوم هغه ستر، پياوړي او مهم قوم دئ چې په آزاد سرحد کې يې، د اپريدو او وزيرو نه وروسته، بريتانوي هند ته تر ټولو زياته سرخوږي پيښه کړېده . مومند د آزاد سرحد دنورو ټولو قبايلو په نسبت زيات تجريد شوي او پر خپله خاوره يې د پردو د تيري په وړاندې ډير مقاومت ښودلي دئ.

دانگريزانو په وړاندې د مومندو دبرياللي مقاومت په سترو لاسته راوړنو کې، په خپله سيمه کې دډيورنډ دکرښې د نښه کيدو مخنيوې او همدا راز دسرکونو دجوړولو مخنيوې شامل دي، کوم چې په سرحد کې د استعماري نفوذ نښه گڼل کيده. کله چې انگريزانو د پنجاب د سرحدي قواوو د منظمو عسکري قواوو په څنگ کې دسرحدي مليشې په جوړولو لاس پورې کړ او دمختلفو ايجنسيو څوارلس زره (۱٤۰۰۰) تنه يې پکې شامل کړل نو مومندو د مليشو د ورکولو نه ډډه وکړه.




دېيورنډ دکرښې نه لرې (کوزې) خواته مومند په دوو برخو ويشل شوي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

مومند د مومند بابا اولاده ده چي ډيورنډ دکرښي لرې خواته په " يکه غونډ" کې ښخ دئ. ددې قوم د نسب سلسله د ځينو نورو پښتنو قبيلو په شان قيس عبدالرشيد ته رسيږي. دقيس درې ځامن وو-- سړبن، غورغښت او بيټني (بيټ نيکه). دسړبن ځوي شيربن يا شيرخبون دئ او دهغه ځوي کند دئ. د کند ځوي خشی يا خوکي او د هغه ځوي غُرى يا ابراهيم دئ. دغُري څلور ځامن وو چي زيرانی، څمکنی، دولت يار او خليل نوميدل چي اولادونه يې د غُرياخيل په نامه ياديږي. مومند او دهغه ورور داوود ددولت يار ځامن دي.

د غُرياخيلو څلور کورنی (زيرانی، څمکنی، دولت يار او خليل) د ١٤ عيسوي پيړی په منځ کي د "قندهار" د "خواجه عِمران" د غرونو د جنوب ختيځي برخي د " خوره مرغا" له سيمي نه لومړي دغزنی شاوخوا د ترنگ رود غاړې ته کډه کړې او وروسته بيا ننگرهار ته راغلی او د جلال آباد او لالپورې تر منځه سيمه کي يې اړولي او بيا يې په پنځلسمه پيړی کي د پيښور شاوخوا سيمي ديوسفزو په مرسته د "دلازاکو" نه نيولي او هلته ميشته شويدي.

مېرک (Merk) د مومندو په نامه خپل مشهور کتاب کي چي لومړي ځل د ١٩٠٠ م کال شاوخواکي خپور شوي ليکي چي دمومندو قوم د ترکزو، حليمزو، بايزو او خويزو دڅلورو اصلي قبيلو او دويزيو، اتمانزيو او ککوزيو اړونده قبيلو نه جوړشوي دئ. ددوي څنگ ته دتاترې په لمنو کي مُلا گوري او دباجوړ لورې ته صافي پراته دي. ارواښاد ميراجان سيال چي پخپله هم مومند ؤ، دمومند بابا په نامه خپل کتاب کي ليکي چي ددوي سيمه د ترکزو، حليمزو، اوتمانزو، دويزو، بايزو او خويزو په شپږو برخو يا زو ويشل شويده. دمومندو په نورو قبيلو کي کوډاخيل، خوگاخيل، موسی خيل، عيسی خيل، قاسم خيل او اتمر خيل شامل دي.

مومند د ډيورنډ دکرښي دواړو خواوو ته اوسيږي . د مومندو سيمه په ختيځ او شمال کي د سوات او امبار د سيندونو، په لويديز کي د افغانستان د کنړ، او په جنوب کي د کابل د سيند تر منځ پرته ده.

- کوز مومند يا د سمي (هواري) مومند چي د پيښور د ولسوالی (ضلعي) جنوب لويديز ته، د ختکو لويديزی او د افريدو ختيځي سيمي کي د کوټلي محسن خان، بهادر کلي، کړې ولي او لنډئي په هوارو او آبادو کلو کي اوسيدل. که څه هم دا مومند د "دوآبه" يا دوو سيندونو ترمنځ حاصلخيزو ځمکو کي ميشت دي، خو دوي اکثره دوه کوره دي او داوړي په گرمو مياشتو کي دلته نه پاتي کيږي .
- بر(پاس) مو مند يا د غره مومند چي د کابل او سوات دسيندونو ترمنځ غرنيو سيمو کي اوسيږي . ددې آزادو مومندو سيمه په ختيځ کي د "جمرود" ته نژدې سيمي نه نيولي تر" ابازيو قلا" او بيا " اتمان خيلو" پورې ، په شمال کي د " باجوړ" او په " لويديز" کي د " کنړ" او په جنوب کي د " شينوارو" او " افريدو" سيمي سره نښتي ده.

د مومندو ټوله سيمه د احمدشاه بابا له وخته د افغانستان خاوره گڼل کيده. کله چي په ١٨٨٠ کال کي بريتانيې عبدالرحمن خان، زړه نازړه او سختي بدگمانی سره د کابل د امير په توگه ويپژانده، هغه وخت د افغانانو او انگريزانو روابط د دو جگړو، ځاني او مالي تاوان، بدخواهی او بې اعتمادی له امله ډير خراب وو. روسيي په منځنی ايشيا کي د خپل نفوذ ساحه پراخوله تر څو ځان افغانستان ته ورسوي او دروسيې او بريتانوي امپراتوريو ترمنځ وروستنی "علمي سرحد"scientific border وټاکي (١).

نوي امير تر يوې اندازې پورې ددغو دوو رقيبو امپراتوريو زيرنده وو، او د بريتانيې او روسيې دواړو په خوښه د قدرت پر گدی ناست وو . روسيې ورته اجازه ورکړه چي دافغانستان په شمال کي خپل نفوذ تامين کړي او لارد لايټن (Lord Lytton) دخپل "وړاندې تگ" د پاليسی په خلاف وغوښتل چي خپلي قواوې دافغانستان د جنوب ختيځ نه ، چي په متزلزله او بې ثباته حالت کي وې، بيرته ستني کړي، او دهرات او قندهار نه پرته ټول افغانستان ورته په واک کي پريږدي(٢). خو دروسيې او بريتانيې په ضمانت يو آزاده افغانستان د انگريزانو په گټه نه وو. ليپل گريفين (Lepel Griffin)، په افغانستان کي د انگريزانو لوړ پوړي سياسي مامور د امير عبدالرحمن خان سره په خبرو بوخت وو ، او دهمدې خبرو په ترڅ کي د انگريزانو په سياست کي بدلون راغی . په لومړي سر کي انگريزانو پلان درلود چي افغانستان ورته د بې قيدوشرطه قلمرو په توگه تسليم شي، او بيا يې وړانديز وکړ چي دباندنيو قواوو سره دې د افغانستان روابط انگريزان اداره او کنترول کړي . ليپل گريفين په خپل ليک کي امير عبدالرحمن خان ته اطمينان ورکړ چي بريتانيا نه غواړي دافغانستان په کورنيو چارو کي مداخله وکړي خو په کابل کي دبريتانيا د حکومت ديوه مسلمان استازي اوسيدل به غوره وگڼي(٣).

کله چي په ١٨٩٣ کال کي ډيورنډ کرښه دبريتانوي هند په مستقيم او تزاري روسيې په غير مستقيم فشار په امير عبدالرحمن خان باندې تحميل شوه، امير دغه لوزنامي تطبيق د مومندو، باشگل او خيبر په برخه کي ونه مانه .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولـئ

امیر د مومندو په برخه کې وویل چې ټول مومند دافغانستان برخه ده. خو د امیر له مړینې وروسته د مومندو سیمه دوه برخې وګڼل شوه، هغه برخه چې د کوز مومند په نامه یادیږي او تر پیښور پورې رسیږي، دبریتانوي هند دنفوذ ساحه وګڼل شوه او بر مومند دپخوا په شان د افغانستان شو.

امیر عبدالرحمن خان ټینګار کاوه چې د مومندو ټوله سیمه د افغانستان برخه ده. هغه دډیورنډ د لوزنامې د امضا کولو نه وروسته هنري ماتمر ډیورنډ ته په یوې مرکې کې وویل چې "زه په باجوړ کې مداخله نه کوم، خو د مومندو ټوله سیمه زما ده". په هغه وخت کې د بریتانوي هند حکومت فکر وکړ چې امیر یا خو په رښتیا تړون پورې په ضمیمه شوې نقشې نه پوهیږي، او یا هم داسې ځرګندوي چې ګواکې نه پرې پوهیږي(٤). وروسته کله چې په ۱۸۹۵ م کال کې د لیکې د نښه کولو کمیسیون د"ناوې کوتل" یا پیچومې ته ورسید، نو د افغاني هیئت مشر ورته وویل چې لیکه به داسې ویستل کیږي چه ټول مومند به د افغانانو په سیمه کې راځي. څرنګه چې انګریزانو ته دا خبره د منلو وړ نه وه، نو د کمیسیون کار هم د بندیز سره مخامخ شو(٥)"




امیر عبدالرحمن خان ددې دپاره چې ټول مومند د خپلې قبضې لاندې وساتي ، ددوی په ملک کې یې ان تر پیښوره پورې دسړک دجوړولو امر وکړ. ده شاید غوښتل چې د خیبر په مقابل کې چې د ګندمک په تړون سره د بریتانوي هند حکومت ته په لاس ورغلې ؤ، له دغه سړک نه کار واخیستل شي . د سړک په جوړولو باندې په بیړه کار پیل شو، خو په کال ۱۹۰۱ کې دهغه په مړینې سره ترېنه لاس واخیستل شو (٦).

## دمومندو په سیمه کې د ډیورند کرښه هیڅکله هم په نښه شوې نده

دمومندو دسیمې په هکله دبریتانوي هند د آرشیف د اسنادو له مخې دلته د ډیورنډ کرښه د ځمکې پر مخ هیڅکله هم په فزیکي توګه نښه شوې نده. پدې هکله د انګریزانو یو معتبره سند «دمومندو دسیمې په هکله نظامی رپوټ» دئ. دا رپوټ چې په ۱۹۲۵ میلادي کال کې خپور شوې دئ ، په لسم مخ کې لیکي چې افغانان وایې چې دکابل د سیند ښئ لورې ته پرته سیمه په دوې پورې اړه لري او د کرښې دا برخه هیڅکله هم په نښه شوې نده. د سرحد هغه برخه چې د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کابل دځیر د غرونو لړۍ سره دوام لري  چې د افغان مومندو او بریتانیا تر نفوذ لاندې مومندو د نفوذ ساحه ټاکي، هم په نښه شوې نده.

دغه رپوټ د غازي امان الله خان دواکمنی په وخت کی لیکل شوی او پر تندي یې  ټینګار شوی دئ چې  دا معلومات یواځې د رسمي  استعمال دپاره دي، او پدې کتاب کې ورکړ شوي معلومات باید په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د مطبوعاتو او نورو کسانو سره شریک نه شي.


Mobilisation.

FOR OFFICIAL USE ONLY.

This book is the property of the Government of India.

NOTE

The information given in this book is not to be communicated either directly or indirectly to the Press, or to any person not holding an official position in His Majesty's Service.

MILITARY REPORT

ON THE

MOHMAND COUNTRY.

GENERAL STAFF, INDIA.

Catalogue No. OM46.

Case No. 21427.

CALCUTTA: GOVERNMENT OF INDIA CENTRAL PUBLICATION BRANCH

دېيورنډ کرښې د آزاد سرحد  د ځينو نورو قبيلو لکه  افريدو او شينوارو په شان  مومند هم په دوو برخو وويشل، چې تقريبانيم يې دکرښې هرې خواته واقع شويدي . ويليام  فريزر تايتلر (Fraser-Tytler (William چې خپله په صوبه سرحد او کابل کې يو لوړپوړې انګريز چارواکې او ډيپلومات پاتې شويدی، ډېيورنډ د کرښې په هکله ليکې چې "که څه هم ډېيورنډ کرښه ښايي په خپل وخت تر ممکنې اندازې  يوه ډيره ښه کرښه وي، خو ښه والې يې لږ او نيمګړتياوې يې ډيرې دي. دا د نژاد پيژندنې، ستراتيژۍ او جغرافيې له نظره يوه غير منطقي کرښه ده ، کومه چې  داباسين  داوبو د تقسيمولو عمومي حوزه، په منځ شلوې، يو ملت په دوو برخو بيلوې، حتی قومونه ويشې(۷).

لارډ کرزن (Lord Curzon)په ۱۹۰۳ م او لويس دين (Louis Dane)په ۱۹۰۷م کلونو کې سخت زيار وويست چې د مومندو په سيمه کې ډېيورنډ د کرښې د نښه کولو، او په مومندو کې د اورګاډې د پټلۍ د تيرولو په هکله د افغانستان د حکومت موافقه تر لاسه کړي ، خو بريالي نشول . دا کار د افغان انګليس د ګډو کميسيونونو ددرې کلن کار په موده کې  هم د خيبر او مومندو په سيمه کې سرته ونه رسيد او تر ننه دغه ليکه د مومندو په ايجنسۍ کې په فزيکي توګه د ځمکې په سر نښه شوې نده.

(نوربیا)

**منابع**


۱.   آدمک، لودویک، دبلیو (۱۳۷۰)،  روابط خارجی افغانستان در نیمهٔ اول قرن بیست. ترجمهٔ پوهاند محمد فاضل صاحبزاده.  ۱۹ مخ.

۲.  هماغه ځای

۳.  آدمک، لودویک، دبلیو (۱۳۷۰)، ۲۰ او ۲۱ مخونه

٤.  Baha, Lal (1978). N.W.F.P. Administration under British Rule 1901-1919 Baha, Lal (1978 (دانګريزانو تر حکومت لاندې دشمال مغربي سرحدی ايالت اداره)، ٦۸ مخ

٥ . هماغه ځای

٦.  دافغانستان د کلتوری ودې ټولنه (۲۰۰۷)، ډیورنډ د واحد ملت د بیلتون کرښه (دمقالو ټولګه) . ٦۷ مخ

۷.  Fraser-Tytler, William K. (1967). Afghanistan: a Study of Political Developments in Central and Southern Asia.)، ۱۸۸ مخ





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ